PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اوونيزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

ای مؤمنانو! په انصاف کلک ودریږئ او باید د الله لپاره گواهي ورکړئ که څه هم ستاسې، ستاسې د مور او پلار او یا خپلوانو پرخلاف وي، هغوی بدای وي یا مسکین، ځکه چې الله له تاسې څخه پر هغوی ډېر مهربان دی. د انصاف په کار کې د خپل هوا متنه مه کوئ که تاسې په گواهي کې ژبې واړوئ یا له ویلو ډډه وکړئ نو بېشکه چې الله پاک ستاسې له کړنې څخه ښه خبر دی. (النساء: ۳۴ - ۳۵)

درس حدیث

از ابو عمر یا ابو عمره سفیان بن عبد الله رضی الله عنه روایت است که گفت:
گفتم: یا رسول الله برای من در اسلام سخنی بگو که بعد از تو از کسی نپرسم. فرمود: بگو بخدا ایمان آوردم (آمنت بالله) و سپس استقامت کن و پایدار باش. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۱۵ مه گڼه، پرله پسې ۲۱۴ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د چنګاښ ۱۲ مه د۱۴۳۴ هـ ق د شعبان ۲۵ مه د۲۰۱۳ م د جولای ۳ مه

پاکستان تایید کړه چې طالبانو ته یې دقدرت د وېشلو وړاندیز کړی

د پاکستان د بهرنیو چارو ویاند: پاکستان په تېرو شپږو میاشتو کې زیاتې هڅې وکړی چې په پایله کې یې د قطر په دوحه کې د طالبانو دفتر پرانستل شو چې له طالبانو سره د خبرو او تماس د یوه مرکز په توگه وکارول شي خو افغان چارواکي د پاکستان دې وړاندیز ته په افغانستان کې د فدرالي نظام د رامنځته کولو په سترگه گوري.

کابل، رسنی:
د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت پرون تایید کړه چې دغه هېواد په افغانستان کې د واک وېشلو وړاندیز کړی دی.
د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت وینډوی اعزاز احمد چوهدري وویل، پاکستان تل په افغانستان کې د سولې په راوستلو کې مثبت رول لوبولی دی.
ښاغلي چودري، چې له خبریالانو سره خبرې کولې، وویل: د افغانستان له سفیر عمر داوودزي سره د پاکستان د بهرنیو چارو او ملي امنیت سلاکار سرتاج عزیز د افغانستان د جگړې د پای ته رسولو لپاره د طالبانو او نورو ذي نفوذو ډلو په گډون د واک د وېشلو وړاندیز وکړ.
پرون وروسته له دې چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال فرشید احمدي...

پاڼې ۴ مخ

دیپلوماسی بریتانیا و تنش ها در روابط بین افغانستان و پاکستان

انگلستان، رسانه ها:
دیوید کامرون صدراعظم بریتانیا پنج ماه قبل دستش در خانهء زنبور کرده، دروازهء اقامتگاه رسمی اش را در بکنگهام شایر (Buckinghamshire) بروی رهبران سیاسی و نظامی افغانستان و پاکستان باز کرد.
درست بعد از اجلاس چکرس (the Chequers summit) بود که مقامات بریتانیایی امیدواری شان را در مورد این ابتکار که تعدادی زیادی از بازیگران کلیدی هردو جانب در آن جمع شده بود، ابراز کردند.
در اجلاس چکرس روسای جمهور افغانستان و پاکستان و روسای ادارت استخباراتی دو کشور اشتراک داشتند.
روزنامهء گاردین چاپ بریتانیا می نویسد:
اما اینک واضح شده است که اجلاس چکرس درست لحظهء بود که روابط بین افغانستان و پاکستان بسوی تنش های عمیق سقوط کرد و برخی منتقدان، دیپلوماسی بریتانیا را بخشی از ملامتی در آن می دانند.
برای بریتانیا که اجلاس چکرس را یک پیروزی بزرگ خوانده است، واضح نبود که جانب افغانستان از این اجلاس با احساس عمیق آزرده گی مراجعت کرده است.
یک دیپلومات از یک کشور سومی که توسط حلقهء

بقیه در صفحه ۴

الیاسن: گفتگوهای امریکا و طالبان در قطر آغاز می گردد

قسمی که من میدانم گفتگوهای مستقیم در دوحه میان امریکا و سایر گروه ها آغاز میگردد. این یک گام دیگر رسمی خواهد بود، من فکر میکنم، هدف امریکا این است که زمینه برای گفتگوی مستقیم میان افغانها فراهم گردد. و به عقیده من گام دوم این است تا شورای عالی صلح و طالبان با هم مذاکره کنند

کابل، رسانه ها:
سازمان ملل متحد می گوید گفتگوهای مستقیم میان امریکا و طالبان در قطر آغاز می گردد. معاون این سازمان ابراز امیدواری می کند که این مساله بتواند راه را برای مذاکرات صلح میان خود افغانها هموار سازد.
ین الیاسن که برای یک سفر پنج روزه وارد افغانستان شده، به شمول رییس جمهور کرزی با برخی از مقام های دولتی دیدار و روی مسایل مختلف گفتگو نموده است. هرچند تا اکنون مشخص نیست که گفتگو ها میان طالبان و امریکا در قطر چه

بقیه در صفحه ۴

چهاردهي والو د اعتراض په توگه د خپلې سیمې سړک کاگل کړ

کابل، رسنی:
د کابل ښار د چهاردهي د خپلو سیمو اوسېدونکو د اعتراض په توگه د خپلې سیمې پر سړک خټې واچولې او کاگل یې کړ.
دوي وايي؛ دري کاله کېږي چې؛ کابل ښاروالی د سیمې ډېر کورونه وران او د سړک د پخېدو وعدې یې ورسره کړې، خو عمل یې پرې نه دی کړی.
د کابل ښار د چهاردهي د علي مردان د سیمې گڼ شمېر اوسېدونکو په بېلونو، بېلچو او گل مالو سره د سې شنبې په ورځ د سیمې پر سړک خټې واچولې او کاگل یې کړ.

پاڼې ۴ مخ

هند:

د سولې خبرې باید د افغانستان د دولت مشروعیت زیانمن نه کړي

کابل، رسنی:
له طالبانو سره د افغانستان د سولې د بهیر ملاتړ وکړ، خو خبرداری یې ورکړ چې دا بهیر باید د افغانستان د حکومت مشروعیت زیانمن نه کړي او له نړیوالو منل شویو سرو کرښو وتلی نه وي.
د هند د بهرنیو چارو وزیر سلمان خورشید په برونای کې د اسیان په سیمه ییز کنفرانس کې وویل: "موږ له وسله والو مخالفو ډلو سره د سوله ییزو خبرو د پیلولو لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوریت د هلوځلو ملاتړ کوو. خو دا باید د افغانانو په مشرۍ او مالکیت، د افغانستان د اساسي قانون په چوکاټ او د منل شویو نړیوالو سرو کرښو په دایره کې د پخلاینې پراخ بنسټه بهیر وي.
په دې خبرو کې باید د افغانستان د ټولنې ټولې برخې او د طالبانو په شمول ټولې وسله والې ډلې شاملې وي."

پاڼې ۴ مخ

افغانستان از تطبیق فیصله های توکیو به جامعهء جهانی حسابدهی خواهد کرد

کابل، رسانه ها:
قرار است فردا چهارشنبه نشستی به هدف ارزیابی چگونگی عملی شدن تعهدات دو جانبه کنفرانس توکیو در کابل برگزار گردد.
در این نشست حکومت افغانستان از تطبیق فیصله های کنفرانس توکیو در برابر جامعه جهانی حسابدهی خواهد کرد.
نماینده های پنجاه و هفت کشور جهان در این نشست که به روز چهارشنبه در کابل برگزار می گردد، اشتراک خواهند کرد.
ین الیاسن معاون سازمان ملل متحد به روز

بقیه در صفحه ۴

د ۵۷ هېوادونو استازي نن په کابل کې غونډه کوي

کابل، رسنی؛
افغانستان نن د نړی د اوه پنځوسو هېوادونو د استازیو د غونډې کوربه وي.
دوی به د ۲۰۱۲ میلادي کال د ټوکیو په کنفرانس کې د لومړي ځل لپاره د شویو ژمنو او پرمختگونو په اړه له نړیوالې ټولنې سره په مستقیم ډول حساب کتاب وکړي.
په دې کنفرانس کې به افغان حکومت د توکیو په کنفرانس کې د کړیو ژمنو په اړه نړیوالې ټولنې ته په مستقیم ډول حساب ورکړي.
په دې کنفرانس کې چې نن د چهارشنبې په ورځ په کابل کې جوړېږي د اوه پنځوس هېوادونو استازي گډون کوي او په هېواد کې به په بېلابېلو برخوکې پر شویو پرمختگونو او ستونزو خبرې وکړي.
د ملگروملتونو د سازمان مرستیال "ین الیاسن" د سې شنبې په ورځ په کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل؛ چې دا غونډه له

پاڼې ۴ مخ

در مصر چه می گذرد؟

(دکتور فضل الهادی وزین) - صفحه سوم

مرسي:

اردو در مورد تعیین ضرب الاجل با من مشوره نکرده است

مصر، رسانه ها:
محمد مرسی رییس جمهور مصر، ضرب الاجل اردوی مصر را مبنی بر این که حکومت باید بحران فعلی سیاسی را حل کند مورد انتقاد قرار داد. در یک اعلامیه دفتر رییس جمهور مرسی گفته شده که اردو قبل از صدور ضرب الاجل با رییس جمهور مشوره نکرده، رییس جمهور با پلان مصالحه ملی خود ادامه خواهد داد.

بقیه در صفحه ۴

د ستونزو د حل لیار

داکتر سیف الدین (عمرخیل)

انسان د الله جل جلاله مکرم مخلوق دی، د عبادت او د ځمکې پرمخ یې د خلافت لپاره پیدا کړی او ورسره یې ټول کائینات دده د خدمت لپاره پیدا کړی. ددې لپاره چې دغه انسان د خیر او شر، ښه او بد، حق او باطل ترمنځ توپیر وکړی شي، الله جل جلاله ورته عقل او شعور ورکړی، د عقل او شعور د موجودیت سره یې بیا هم دده د لارښوونې او هدایت لپاره په هر عصر کې انبیاء او رسولان استولي او هغوی ته یې آسماني کتابونه او صحیفې ورکړي، چې پدې لړ کې یې ددې امت چې منځنی او خیر امت دی، د لارښوونې لپاره اخري پیغمبر محمد بن عبدالله صلی الله علیه وسلم استولی او په هغه یې قرآن عظیم الشان نازل کړی، تر څو خلک د ژوند د چارو د سمون او ټیکاو په خاطر د قرآن کریم او نبوي احادیثو له لارښوونو څخه استفاده وکړی، تر څو د دنیا او آخرت کامیابي ترلاسه کړي.

د آنحضرت صلی الله علیه وسلم، خلفاء راشدینو، امویانو او عباسیانو په دور کې چې مسلمانان په ټولو چارو کې برلاسی ول دهغه اساسي علت دا و چې مسلمانانو په واقعي ډول ځانونه الله جل جلاله ته تسلیم کړی وو دهغه ټول قوانین یې په بشپړ ډول پرځان تطبیق کول او د ژوند ټولې چارې یې د الهي احکامو په رڼا کې پرمخ بیولی، همدا وجه وه چې د نړی ګردو کفارو له مسلمانانو سره په نظامي، سیاسي، اجتماعي او اقتصادي ډګرونو کې د سیالی توان نه درلود، د د نن ورځې پرمخ تللی نړی چې هغه وخت د فقر، غربت، بی نظمي، بې عدالتي، ظلم او ناپوهی په تیارو کې ډوبه وه، او د ځنګله نظام په کې حاکم و، هستوګن یې له راز راز کړاوونو سره لاس او ګریوان ول، ولې د مسلمانانو په قلمرو کې یو ښه نظام حاکم و، هلته د فقر کچه ډیره ټیټه وه، له هیڅ انسان سره ظلم او زیاتی نه کېده او د هر چا ځان، ناموس او مال په امان کې و.

هر وخت او په هر ځای کې یې د اسلام د سپیڅلی نظام تر سیوری لاندې هوسا ژوند درلوده.

اوس سوال پیدا کېږي چې ولې نن ورځ مسلمانان د ستونزو او کړاوونو سره لاس او ګریوان دي؟ نن ولې مسلمان په فردي او ټولنیزو چارو کې له مشکلاتو سره مخامخ دی؟ نن که آنحضرت صلی الله علیه وسلم حیات ندی، د الله کتاب او د محمد صلی الله علیه وسلم د احادیثو کتابونه خو د هر مسلمان په کور کې شتون لري چې ټولو ستونزو حل په کې موجود دی. دا یو څرګند واقعیت دی، چې د مسلمانانو د وروسته پاتې کېدو او د کفارو په مقابل کې ددوی د بې وسې اساسي لامل په نني عصر کې له اسلام څخه د مسلمانانو فاصله اخیستل دي. د نن ورځې مسلمانان پدې خوشحاله دي چې په یوه مسلمانه کورنی کې زېږېدلی، تذکره کې ورته مسلمان لیکل کېږي، د هېواد له نامه سره یې د اسلامي د کلمې پسوند او پیشوند لیکل کېږي.

ای مسلمانه وروره! تش په یو څو الفاظو مه غولېږه، لږ د ځان سره فکر وکړه چې ستا فردي او ټولنیز نظام سیاسي، اخلاقي او اقتصادي نظام څومره د اسلام له چوکاټ سره سمون خوري؟ آیا د اسلام له اصولو سره برابر دی او که نه؟

باید په دې پوه شی چې ستا د ژوندانه چارې د اسلام له اصولو سره برابرې دي او که نه لومړی باید ځان په قرآن او نبوي احادیثو پوه کړو، اوامر او نواهي وپیژنو او بیا پدې عمل وکړو او نورو ته هم د عمل کولو دعوت ورکړو.

په نننی عصر کې زموږ دېر ځوانان ورونه او خویندې د ناپوهی له کبله د اسلام د دښمنانو ښکار ګرځېدلي، او دهغوی تش په نامه تمدن څخه چې په حقیقت کې یو فرهنګي یرغل دی متأثره شوي دي.

ځینې خویندې په بازار، پوهنتون، دفتر او خپله کاري ساحه کې د موډ په نامه داسې جامې په تن کوي چې مسلمانان دهغو په لیدو شرمېږي، غربي نړی د غربي فرهنګ د ترویج په خاطر هره ورځ نو نوی موډونه بازار ته عرضه کوي او ناخبره ځوانان او پیغلې یې په اغوستلو افتخار کوي.

که په هر ځای کې د هر چا لخوا ورته نصیحت کېږي لنډ ځواب یې دا وي چې زموږ په ملک دموکراسي ده د بشر حقوقو ته باید احترام وشي!! په داسې حال کې چې دداسې الفاظو په څرګندولو سره د لوی ګناه مرتکب کېږي او د کفر له تقویت سره مرسته کوي.

سرنوشت نامعلوم صلح!

محمد عابد (عابد)

در این اواخر بعداز کشمکش های فراوان بین دولت افغانستان، ایالات متحدهٔ امریکا و طالبان حکومت میانجی قطر توانست دفتری را زیرنام دفتر سیاسی امارت اسلامی طالبان در شهر دوحه افتتاح نماید، که به عکس العمل شدید دولت افغانستان مواجه گردید. پس از اعتراض شدید حکومت افغانستان بیرق طالبان و نام امارت اسلامی از دفتر حذف گردید.

گپ در اینجاست که آیا این همهٔ که صورت گرفت بدون مشورهٔ دولت افغانستان و شخص رئیس جمهور بوده و یا خیر؟

حکومت افغانستان در چند ماه اخیر به یک شکل دیگری میخواهند اذهان عامه را نسبت به خود تغییر دهد، این بازی از وقتی آغاز گردید که بسته های پولی (CIA)، (MI6) و استخبارات ایران به ارگ ریاست جمهوری شخص رئیس جمهور و شورای امنیت ملی از طریق رسانه های همگانی به نشر رسید، حکومت افغانستان بیدرنگ برای کتمان این واقعه پیشرفت ارتش پاکستان را در ولسوالی گوشتهٔ ولایت ننگرهار مطرح نمود، تا بدینوسیله از یکطرف سیاسیون افغانستان را مصروف این موضوع حساس نمایند و از طرف دیگر خود را مدافع اصلی این سرزمین معرفی نمایند، تا بتواند ازینطریق حیثیت از دست رفتهٔ نظام فعلی بین اذهان عامه به یک شکل اعاده نمایند.

مرحلهٔ دوم این بازی بزرگ ایجاد دفتر سیاسی طالبان در قطر بوده که تا الحال ادامه دارد به نظر بنده ایجاد دفتر سیاسی برای طالبان اگر در حد یک آدرس آن هم در مشوره با حکومت و دیگر مخالفین نظام باشد یک گام مثبت بوده و از آن باید حمایت صورت بگیرد، اما این هم باید فراموش نگردد که هر دو طرف هم حکومت افغانستان و هم طالبان در صدد بدست آوردن امتیازات بیشتر از غرب و مردم مظلوم افغانستان میباشد. حکومت افغانستان به یک شکلی میخواهد برای تداوم قدرت تیم حاکم در رأس آن حامد کرزی و معاونین شان برای مردم افغانستان وانمود نمایند که گویا اینها از یک دسیسهٔ خطرناک آنهم حکومت ملوک الطوایفی بوده جلوگیری نموده است.

سؤال در اینجاست که این دسیسه از طرف کی، برای چی و روی کدام میکانیزم بوجوده آمده است؟! هدف آن چی بوده، بازیکنان آن کدام اشخاص و توسط کی طراحی شده است؟! که باید و شاید ملت افغانستان در مورد آن آگاهی کامل حاصل نمایند.

طرف دوم این بازی خطرناک مخالفین مسلح دولت بالخصوص طالبان بوده، متأسفانه بارهاست که از طرف حامیان دروغین شان در زدو بندهای سیاسی ناکام جلوه داده شده است، بعداز افتتاح دفتر قطر مردم افغانستان انتظار آنرا داشتند که طالبان موقف سیاسی خویش را نسبت به این دفتر اعلام خواهد کرد، ولی با تأسف تا الحال موقف رسمی طالبان افغان تحت رهبری ملا محمد عمر اعلام نشده است، که این عمل شان میتواند هزارها پرسش را نزد مردم افغانستان بوجود بیاورند.

از طرف دیگر شخصیکه از طرف رسانه های همگانی به سمت رئیس سیاسی طالبان اعلان گردیده، بارها ذبیح الله مجاهد سخنگوی رسمی طالبان او را متعلق بخود ندانسته، و مصاحبهٔ اخیر ملا آغاجان معتصم با تلویزیون طلوع نیوز خلاف عملکرد و موقف رسمی طالبان بوده است.

مردم افغانستان باید بداند که این همه بیش از یک بازی سیاسی غرب و متحدانش چیزی دیگری نبوده و هیچ دردی را دوا نخواهند کرد. صلح به معنی واقعی آن مذاکرات بین الافغانی که مابین همه طیفهای مردمی در کشور با تمام مخالفین نظام فعلی و در داخل کشور شان میباشد، مردم افغانستان باید متوجه این حقیقت بزرگ باشد که دولت افغانستان باید بدون استثناء با تمام مخالفین مسلح دولت وارد گفتگو و مذاکره شود، درغیر آن تضمین یک صلح پایدار در افغانستان ناممکن خواهد بود.

در مصر چه می گذرد؟

دکتور فضل الهادی وزین

امروز مصر یکی از دشوارترین مراحل تاریخ خویش را می گذراند.

اکنون در مصر کوشش در جریان است تا بر اراده و خواست یک ملت بزرگ خط بطلان کشیده شده و نظام حسنی مبارک در شکل و قالب دیگری دوباره به اریکه قدرت باز گردانیده شود.

گروه های سیکولار، چپ گرا، اوباشان و چاقوکشان اقلیت مسیحی (قبطي)، بقایای نظام سرنگون شده حسنی مبارک، همه به کمک مالی و رسانه ای خارجی در تلاش اند تا حکومت منتخب، به قیادت دکتور محمد مرسی را که از طریق یکی از شفاف ترین انتخابات جهان به قدرت رسیده است، با زور و چاقو کشی سرنگون سازند.

متأسفانه این همه در زیر نام آزادی و با استفاده از نام دیموکراسی صورت می گیرد. و با استفاده از نام دیموکراسی تلاش می شود تا رئیس جمهور منتخب یک کشور، که از طریق اکثریت آراء مردم و توسط صندوق به قدرت رسیده است برکنار شود.

با نام دیموکراسی دفاتر حزبٌ حاکم به آتش کشیده می شود و با نام دیموکراسی نخبه سیکولار مصر از اردوی مصر دعوت می کنند تا زمام قدرت را به دست گرفته و رئیس جمهور منتخب را از قدرت کنار بزنند!.

آنچه امروز در مصر واقع می شود یکبار دیگر به اثبات می رساند که دیموکراسی و داد و فریاد راه انداختن به نام دیموکراسی فقط وسیله و ابزاری است که از طرف عناصر سیکولار برای رسیدن به اهداف شخصی از جمله تکیه زدن به اریکهٔ قدرت مورد استفاده قرار می گیرد. و اگر خلاف میل آنها آراء به کسی دیگری رفت، آن زمان نه دیموکراسی را قبول دارند ونه هم ارده مردم را.

این دعوی داران دروغین دیموکراسی فقط از دیموکراسی برای آزادی و لجام گسیختگی اخلاقی و اسلام ستیزی کار می گیرند، ورنه دیموکراسی ایجاب می کند تا به رأی مردم و فیصله صندوق احترام گذاشته شود و باید به رئیس جمهور منتخب فرصت داده شود تا مدت قانونی خویش را تکمیل نموده و اگر از کدام کار وی راضی نبودند شخص ویا کسی دیگری را بجای او به ریاست جمهوری برگزینند.

نقطه دیگر اینکه این نخبه سیکولار مصر در تبانی و همدستی واضح با اقلیت مسیحی قبطي، که از به قدرت رسیدن یک جریان اسلامگرا و مردمی چون حرکت اخوان المسلمین دل خوش ندارند، کوشش می کنند تا با وجود ادعای سخن گفتن از طرف مردم مصر، حاضر نیستند به طرف انتخابات پارلمانی بروند و با رأی مردم به قدرت برسند.

با وجود سر دادن داد و فریاد، تحمل پذیري، این «نخبگان» سیکولار و بقایای رژیم حسنی

> این دعوی داران دروغین دیموکراسی فقط از دیموکراسی برای آزادی و لجام گسیختگی اخلاقی و اسلام ستیزی کار می گیرند، ورنه دیموکراسی ایجاب می کند تا به رأی مردم و فیصله صندوق احترام گذاشته شوه و باید به رئیس جمهور منتخب فرصت داده شود تا مدت قانونی خویش را تکمیل نموده و اگر از کار وی راضی نبودند کسی دیگری را بجای او به ریاست جمهوری برگزینند.

مبارک، تحمل انتظار چند ماه تا اجرای انتخابات پارلمانی (که شکل حکومت آینده را تعیین می کند) را ندارند! برای این قماش افراد که فقط می توان آنان را دستور زور گویی خواند، این مهم نیست که کشور و ملت مصر به چه مشکل مواجه می شود، برای آنان فقط رسیدن به قدرت از هر راهی که باشد مطرح است.

آنچه در مصر می گذرد، می توان به آن نام دموکراسی زاده زور و چاقو کشی گذاشت و بر آنانیکه سر دمداران چنین دیموکراسی اند، می توان دموکراتان چاقو کش اطلاق کرد.

تازه ترین گذارش ها حاکی از این است که ائتلاف نیروهای ملی هرنوع مداخله اردو را در امور سیاسی کشور مردود دانسته و از ملت مردم مصر خواسته است تا بخاطر حمایت از حکومت مشروع و منتخب امروز در تمام ساحات مصر تجمع کنند.

قابل ذکر است که حرکت اخوان المسلمین و سایر احزاب و نیروهای طرفدار حکومت منتخب غیر از یک نقطه در قاهره از تجمع و راه پیمایی مردمی برای جلوگیری با مظاهره چیان مخالف خودداری کرده بوند.

مگر با صدور بیانیه جنرال عبدالفتاح السیسي، که بوی توطئه علیه حکومت منتخب از آن به مشام می رسد، قیادت ائتلاف نیروهای ملی از مردم مصر خواست تا برای دفاع از راده و تصمیم مردم و حمایت از حاکمیت مشروع امروز به خیابانها سرازیر شوند.

به نظر تحلیل گران این موقف مردمی می تواند سد و مانع بزرگی باشد در برابر توطئه اتحاد و نخبه سیکولار و مارکسیستان و مسیحیان که خواهان ایجاد هرج و مرج و کشاندن مصر به طرف بی ثباتی و عدم استقرار اند.

هر چند پس از صدور بیانیه ریاست جمهوری و انتقاد آن از لهجه اعلامیه قوای مسلح، وزارت دفاع کوشش برای کودتا را نفی کرد، اما با درنظرداشت حقایق نمی توان توطئه علیه حکومت منتخب و تلاش برای نادیده گرفتن اراده ملت مصر را پایان یافته تلقی کرد.

حضور فعال مردم در صحنه پس از مدد الهی بزرگترین پشتیبان و حمایت از رئیس جمهور منتخب و حکومت نوپای مصر بشمار می رود.

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د دښمنانو توطیو په وړاندې زموږ د افغانانو مسؤولیت څه دي؟!

د تیرې شنبې په ورځ ولسمشر کرزي په یو مطبوعاتي کانفرانس کې وویل: ځینې هېوادونه غواړي چې مخالفینو ته د څو جنوبي ولایتونو د واکمنۍ په ورکولو سره په هېواد کې د ملوک الطوایفي نظام رایج او په دې توګه هېواد له تجزیې سره مخامخ کړي. که څه هم ولسمشر د نورو هېوادو نومونه په ډاګه نه کړل خو د پاکستان هېواد ته په اشارې سره وویل: ځینې هېوادونه غواړي چې په افغانستان کې ملوک الطوایفي رامنځته کړي.

د افغانستان د تجزیې په اړه د ښاغلي کرزي دا څرګندونې څه نوي نه دي چې افغانان ورباندې حیران شي، بلکې له ډېر پخوانه په دې حقیقت پوه دي چې ځینې مغرض هېوادونه د څو لسیزو راهیسې پدې لټه کې دي چې له هرې لارې وي افغانستان تجزیه او خپل ناولی پلان پکې تطبیق کړي.

البته موږ ته تر ټولو زیات د افسوس خبره داده چې آخر موږ ولې دومره غافله، ناخبره او بې خونده شوي یو چې بهرني هېوادونو زموږ د خاورې د ویشلو او ملوک الطوایفي د رامنځته کولو فکر یې پیدا کړي؟ اوس موږ ته پدې خبره ژور غور او فکر پکار دی چې دهغوی ددغو دسیسو او توطیو د شنډولو لپاره څه کول پکار دي، هغه کومې لارې ګودرې او پلانونه دي چې له مخې یې د دښمنانو په ارمانونو خاورې ایرې واړوو؟ یواځې دهغوی د غندنې او غبرګون په ښکاره کولو سره دهغوی د توطیو او دسیسو مخه نشي نیول کېدې، بلکې ددې خبرې ضرورت دی چې افغانان عملاً ددغو توطیو د شنډولو لپاره د عمل ډګر ته ودانګي او پر هغو پلانونو کار وکړي چې د دښمنانو توطیې په نطفه کې خنثی او د افغانستان خاوره دهغوی له شر نه خلاص کړي.

تاریخي حقایق دا راپه ګوته کوي چې د بهرنیو دښمنانو د توطیو او دسیسو د شنډولو لپاره تر ټولو موثره نسخه داده چې د افغانستان ټول وګړي د ملي وحدت په تار کې وپیرل شي او د بهرنیو د هر اړخیزو لاسوهنو پرخلاف د غره په څېر مضبوط ودرېږي.

موږ ولیدل چې د بهرنیانو ددغو دسیسو په خلاف د ولسي جرګې او سنا مجلس غړو خپل توند عکس العمل وښود، په رسنیو کې ډېر څه ولیکل او وویل شول، مګر هغه څه چې د کولو وو کار ورباندې ونه شو، پکار خو دا و چې د هېواد سیاسي مشرانو په سملاسي توګه خپل داخلي اختلافات شاته او په یو ګډ مطبوعاتي کنفرانس کې د خپل ملي وحدت او همغږۍ اعلان کړی وای. افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور او ناموس دی او د واحد هېواد په توګه دده ساتل پر ټولو یو ډول فرض دی.

افغانستان لا د پوخوالی هغې پړاو ته نه دی رسیدلی چې د فدرالي نظام متحمل شي که اوس د یووالي خوب نشي ویلی سبا به د فدرالي حکومت د اداره کولو ضمانت څوک ورکوي؟ په اوسنیو حالاتو کې چې افغانستان د دښمنانو د سترګو اغزی دی او نه غواړي چې د نړۍ په نقشه کې د یو غښتلي مستحکم او خپلواک هېواد په توګه تبارز وکړي، نو ځکه دښمنان د فدرالي نظام د رایجولو له لارې غواړي چې مرکزیت یې ختم او د خپلو مستقیمو لاسوهنو او اثراتو د قایمولو لپاره فضاً مساعده کړي نو ځکه په دې حساسو شرایطو کې د ډېرو چیغو او واویلا کولو پرځای ددې خبرې ضرورت دی چې ټول مشران که هغوی په حکومت کې دي یا له حکومته باندې، له خپل هېواد او ولس سره د مینې ثبوت په وړاندې کولو سره ملي یووالي اعلان کړي او ټول په ګډه په یو غږ د خپل هېواد د ژغورنې، بشپړتیا او ملي سلامتیا لپاره د عمل ډګر ته راودانګي.

شهسوار صافی

دا هېواد به څوک جوړوي افغانان که پردي ؟!

په دې کې هېڅ شک نشته چې د هر قوم د قوت راز دهغوی په یووالي او همغږۍ کې دی. د کوم هېواد قوم چې پخپلو کې یو موټي پاتې شوي او خپل ملي یووالي یې ساتلی دی هغوی نه یواځې د ژوند په ټولو ډګرونو کې په زړه پورې بریالیتوبونه ترلاسه کړي بلکې تر نورو هېوادو پورې یې هم لاسونه غځیدلي او د باداري پر مسند ناست دي.

د یو هېواد وګړو لپاره ملي یووالي، همغږي او اخلاص هغه لوی نعمت دی چې د ټولو بریاو محور او بنیاد تشکیلوي، ددې برعکس په کومو هېوادو کې چې خپلمنځی جګړې، بې اتفاقي او اختلافونه دي هلته نور ډول ډول نعمتونه او پرمختګونه خو پر ېږده ان د ژوند د لمړنیو اړتیاو څخه هم محروم دي او هره ورځ ډېری وګړي د خوراک، څښاک او درملونو د نشتوالي له کبله د مرګ کومې ته ورځي.

افغانستان هم له هغو هېوادو څخه یو دی چې تراوسه اکثریت وګړو ته یې دوه وخته وچه ډوډۍ قدرې هم نه رسېږي او ګڼ ماشومان د سؤ تغذیه له لاسه خپل ژوند له لاسه ورکوي.

ددې ټولو علتونه هرچاته څرګند دي او هر افغان په دې پوهېږي چې ولې له دومره لویو ستونزو سره لاس او ګریوان دی؟ ددغو پوښتنو په ځواب کې هر افغان همدا یوه خبره کوي چې موږ پخپل بل کړي اور کې سوځېږو او څومره تاوان چې موږ پخپلو لاسو ځانو ته او خپلې خاورې ته رسولې بل چا نه دی رسولی.

همدا موږ یو چې په ګنو ډلو ټپلو ویشل شوي یو، او د افغانستان په ګوټ ګوټ کې مو د رشوت، غصب، لوټماري، ظلم او خیانت بازار ګرم کړی دی، همدا موږ یو چې د هغو تش په نامه خودغرضو مشرانو تر شا ولاړ یو چې د هېواد او ولس د خدمت پرځای ایله خپل جیبونه ډکوي. همدا موږ یو چې دهغوی هرې خبرې تقلید کوو، خو متأسفانه پر هر څه د پوهېدو باوجود بیا هم افغانان له هغه څه نه لاس په سر کېدو ته نه چمتو کېږي چې سراسر هېواد او ولس په تاوان دی، تراوسه نه چا له رشوت نه لاس واخیست او نه هم غبن او خیانت نه، نه چا قومي تعصب او ناروا اختلافاتو څخه توبه وکړه او نه هم د خائنو مشرانو له ملاتړ او مرستې څخه. ملي یووالي او ملي پخلاینه چې د افغانستان ځورېدلی ولس ته د آب حیات مثال لري، له سره ورته پاملرنه نه کېږي او د هرې ورځې په تېرېدو د اختلافاتو او تعصبونو ساحه نوره هم پراخېږي.

که دولت خپل مخالفین د جګړو د جاري ساتلو له لارې د خپل هېواد کمزوری کولو ملامتوي نو په دولت کې شریک لوړ پوړي او ټیټ پوړي چارواکي هم په ادارو کې د فساد، خیانت او درغلي له لارې د هېواد په سلامتیا او استحکام بنسټونه کمزوري کوي، همداراز سیاسي ګوندونو او ډلو ټپلو چې په هره مسئله کې د یو بل پر خلاف د اختلاف کولو کوم دستور خپل کړې او خامخا په هره مسئله کې د یو بل پښې وهي دا ټول د هېواد او ولس د کمزوری کولو چارې دي چې دوی یې پرمخ بیایي.

داسې هرګز نه شي کیدلې چې د یو هېواد د اوسېدونکو له زیار کوښښ او خدمت پرته هېواد پخپله د ترقي او امن په کور بدل شي. لکه څنګه چې یو کور د معمارانو او کاریګرانو پرته نه شي جوړېدی او یو باغ د باغوان له خواري او زحمت پرته نشي زرغونیدلې همداسې هېڅ یو هېواد د خپلو اوسېدونکو له اخلاص نه ډکو خدمتونو پرته د ژوند په ګنو ډګرونو کې پرمختګ نه شي کولې. دا به لیونتوب وي چې د اغزي تخم شیندونکی دی د غنمو او وریژو د فصلونو د شنه کېدو تمه وکړي، چې څه کرې هغه به ریبې د متل په مصداق افغانستان تر هغه د امن، مینې، عدالت او همدردي په کور نشي بدلیدلې تر څو چې د افغانستان وګړي پخپل هېواد کې د امن، ورورۍ، انصاف او همدردي ګلونه ونه کړي، تر هغه به د سکون او اطمینان څرک ونه ویني تر څو چې پخپلو کې د یو بل په خلاف اوچته کړی وسله له اوږو کوزه نه کړي، تر هغه به د رشوت اقربا پروري او تعصب له لعنت نه نجات ترلاسه نه کړي تر څو پورې چې ټول افغانان پخپلو کې یو بل ته د ورور په سترګو ونه ګوري. تر هغه به د هېواد د دښمنانو په خلاف د کامیابي چانس ترلاسه نه کړي تر څو پورې چې پخپلو کې یو بل ته د اتفاق لاسونه نه وي ورکړي، تر هغه به د نړۍ له نورو هېوادو سره د سیالۍ جوګه نشي تر څو پورې چې د خپلې خاورې او ولس د خدمت لپاره د همت ملاوې نه وي تړلې. تر هغه به د لوږې جهالت او غربت څخ خلاصون ونه مومي تر څو پورې چې د خپل هېواد د ودانۍ او آبادی لپاره شپه ورځ په ځان نه وي یوه کړي.

یواځې په خوله تشې خبرې، په منبرونو او ستیجونو باندې جذباتي تقریرونه په راډیو تلویزیون او مطبوعاتو کې د مقالو خپرونه تر هغه مثبته پایله نشي ورکولې تر څو پورې چې د افغانستان سیاسي، مذهبي او قومي مشران خپله قبله سمه نه کړي او د هېواد او ولس د خیر ښیګنې په خاطر عملي ډګر ته ونه دانګي. که واقعاً د افغانستان ټولی پرګنی، مشران او دهغوی متبعین د زړه له کومې غواړي چې له موجوده کړاوونو څخه ووځي او د خلکو په ژوند کې مثبت انقلاب راشي نو دغه مقصد ته د رسېدو لپاره لدې پرته بل هېڅ لاره نشته چې د ګفتار د غازیانو پرځای عملي غازیان جوړ شي. امانت او دیانت خپل اصلي مقصود وګرځوي او په بشپړ اخلاص په ګډه د خپلې خاورې او ولس د خدمت لپاره د عمل ډګر ته ودانګي.

د هر رنګ مرتاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګوماران اوسئ

شهادت

ارګان

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۲۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

پاکستان تایید کړه چې طالبانو ته ...

له رویټرز خبري اژانس نه وویل چې پاکستان د افغانستان د جګړې د پای ته رسېدو لپاره د سولې په خبرو کې د کابل او طالبانو ترمنځ د قدرت د وېشلو نظر وړاندېز کړی دی. نو د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویندوی اعزاز چودري د افغان چارواکي څرګندونې فوراً رد کړې.

ده رویټرز خبري اژانس ته وویل چې د سرتاج عزیز او داوودزي کټه یو ډول تشریفاتي ملاقات و چې په ترغ کې یې پر دوه اړخیزو اړیکو خبرې وشوې. خو طالبانو ته د ولایتونو د سپارلو په باب څه ونه ویل شول.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویندوی تېر خبریالانو ته وویل چې هیواد یې ټل هڅه کړې چې د افغانستان د کشالې د حل کولو لپاره د منځګړي رول ولوبوي.

د ده په وینا د پاکستان دا ډول هلې ځلې په تېرو شپږو میاشتو کې زیاتې شوې دي چې په نتیجه کې یې د قطر په دوحه کې د طالبانو دفتر پرانستل شو څو له طالبانو سره د خبرو او تماس د یوه مرکز په توګه وکارول شي.

افغان چارواکي د پاکستان وړاندیز د افغانستان فدرالي کېدل انګېري. ولسمشر کرزي او وروسته د بهرنیو چارو مرستیال وزیر د پاکستان وړاندیز ته په اشارې ویلي چې پاکستان غواړي چې افغانستان په وړو ملوک الطوایفو ووېشي.

پاکستان د خپل وړاندیز بشپړ جزییات نه دي اعلان کړي او په زغرده څرګند څه نه شي ویلی چې د پاکستان هدف په جګړه ماړو ډلو د افغانستان وېشل یا فدرالیزم دی او که په مرکزي او ولایتي حکومتونو کې طالبانو ته د برخې ورکول.

د پر افغانانو په حکومت کې د طالبانو ګډون د جګړې له پای ته رسېدو سره مرستندوی بولي او وایي، په داسې صورت کې چې حکومت د پخوانۍ شمال ټلوالې له مختلفو ډلو جوړ وي که سوله راتلای شي ولې باید طالبانو ته په حکومت او ټول دولت کې ونډه ورنه کړای شي.

الیاس: گفتگوهای امریکا و طالبان ...

زمانی آغاز خواهد شد اما سازمان ملل متحد روی پیشبرد مذاکرات صلح به رهبری افغانها تاکید می کند.

معاون این سازمان که به روز سه شنبه در یک نشست خبری در کابل صحبت می کرد، گفت، سازمان ملل آماده، همکاری در روند صلح این کشور است. اما وی نگفت که سازمان ملل متحد چه نقشی را می تواند در این روند ایفا کند.

در عین حال ین الیاس می گوید که مذاکرات مستقیم صلح میان ایالات متحده و طالبان در قطر آغاز خواهد شد:

"قسمی که من میدانم گفتگوهای مستقیم در دوحه میان امریکا و سایر گروه ها آغاز می گردد. این یک گام دیگر رسمی خواهد بود، من فکر می کنم، هدف امریکا این است که زمینه برای گفتگوی مستقیم میان افغانها فراهم گردد. و به عقیده من گام دوم این است تا شورای عالی صلح و طالبان با هم مذاکره کنند."

پس از آنکه دفتر گروه طالبان در قطر دوهفته پیش گشایش یافت انتظار می رفت به زودی مذاکرات صلح میان این گروه با امریکا آغاز گردد. اما واکنش تند حکومت افغانستان در رابطه به چگونگی ایجاد این دفتر سبب خشم طالبان و مانع آغاز مذاکرات صلح گردید. در عین حال مقام های امریکایی نیز هشدار دادند که اگر طالبان آماده، مذاکرات نگردند، دفتر شان مسدود خواهد شد.

از سوی هم معاون سازمان ملل متحد از طالبان می خواهد تا از خشونت ها و کشتار افراد ملکی دست برداشته و آماده، گفتگوهای صلح گردند.

ین الیاس می گوید که طالبان نمی توانند با ادامه، خشونت ها اعتماد مردم را به دست آوردند:

"من امیدوارم که گام های از سوی رهبری طالبان برداشته شود و آنان به خاطر داشته باشند که با ادامه، خشونت ها نمی توان اعتماد مردم را به دست آورد. مردم دراین جا بسیار آسیب دیده اند، در اینجا یعنی افغانستان تعداد زیادی زنان بیوه و اطفالی که مادران و پدران شان را از دست داده اند وجود دارند. من فکر می کنم نیاز داریم تا خواسته های مشابه خود را شناسایی نماییم و باید ترس را در میان زندگی عادی مردمانی که به آینده شان امیدوار اند ایجاد کنیم."

دیپلوماسی بریتانیا و تنش ها در ...

نزدیک حامد کرزی از جریانات مطلع شده است، می گوید:

"واضح بود که اجلاس چکرس یک موفقیت نیست."

به نوشته، روزنامه، گاردین، وزارت خارجه، بریتانیا کاملاً یک دید متفاوت را در لندن ارایه می کرد. آنها تصور می کردند که یک چرخش ستراتیژیک پاکستان را در مورد افغانستان تشخیص داده اند. اما افغان ها کلمه، نتایج صفر را در مورد این اجلاس بکار می بردند.

زمانیکه هفته، گذشته دیوید کامرون صدراعظم بریتانیا برای بحث روی همین موضع جنجالی از افغانستان و پاکستان دیدار کرد، باید درس های را به خاطر داشته باشد که اجلاس چکرس در مورد محدویت قدرت قناعت دادن دیپلوماسی بریتانیا به افغان ها و پاکستانی ها، برایش داده است.

روزنامه، گاردین می نویسد:

با آنکه در اعلامیه، ختم اجلاس چکرس که اینک بطور خیلی مضحک آن خوشبینانه به نظر می رسد، هردو جانب تا شش ماه به رسیدن هدف تامین صلح در افغان، تعهد کردند، اما درست بعد از آن بود که پاکستان به گلوله باری مناطق سرحدی افغانستان آغاز کرد و برای بی اعتبار ساختن حامد کرزی روزنامه های پاکستانی از مقالات پر شد.

حامد کرزی بطور خاص زمانی خشمگین شد که یک مقام پاکستانی در ماه مارچ در صحبت با مطبوعات بین المللی، حامد کرزی را بزرگترین مانع در برابر صلح خوانده، گفت:

"حامد کرزی بطور مستقیم افغانستان را به جهنم می برد."

روزنامه، گاردین می نویسد:

کابل با جنگ کلمات خودش پاسخ داد و در ماه مارچ صد ها تن در جریان تظاهرات در شهر های مختلف افغانستان شعار "مرگ بر پاکستان" را سر دادند.

روزنامه، گاردین در یک تلاش برای دریافت این نکته که در اجلاس چکرس چی اشتباه صورت گرفت، با تعدادی از مقامات هردو جانب صحبت کرده است.

تعدادی از آن ها عدم موجدیت احتیاط دیپلوماتیک را باعث اصطحکاک می دانند. حامد کرزی زمانی که خودش را در مذاکرات در برابر خانم حنا ربانی کهر نه همتایش آصف علی زرداری یافت، باعث رنجش وی شد.

دیپلومات های که در این مذاکرات شرکت داشتند، به روزنامه، گاردین گفته اند، برای آن ها عجیب بود که در این اجلاس نه آدام تامپسن Adam( )Thomson کمشنر عالی بریتانیا برای پاکستان و نه هم ریچارد سیج Richard Stagg(سفیر آن کشور در افغانستان حضور داشتند.

در اجلاس چکرس صرف یک سیاستمدار اشتراک داشت که آنهم دیوید کامرون بود و اجلاسی که با امیدواری های بزرگ «ختم همه، مشکلات در روابط بین افغانستان و پاکستان» شروع شده بود، محصول فکر یش بود.

روزنامه، گاردین می نویسد:

اما طوری که دیود کامرون اجلاس چکرس را پیش برد، افغان ها را که فکر می کردند او در مباحثات از پاکستان جانب داری می کند، خشمگین ساخت.

چهاردهي والو د اعتراض په توګه ...

دوي ویل دا کار د دي لپاره کوي چې ښاروالی په غیرمستقیمه توګه پوه کړي، چې د سیمي خلکو سره یې کړي ژمنې، عملي کړی نه دي.

د سیمي اوسیدونکو ویل، کابل ښاروالی له دري کالو راهیسې په دي یلمه چې د سیمي سرکونه جوړوي یو شمیر کورونه وران کړل، خو سرک یې ورته جوړ نه کړ:

"په لومړي سر کې چې دا کار وشنډید، علت د خلکو بې پروایي وه، د دي له امله ترکي مرستندویانو هم زړه ښه نه کړ.

خو د کابل ښاروالی د دیا یا هغو په نتیجه کې د سرک تلدار کانې جاري ښيري او په راتلونکي خو ورځو کې به یې کار پیل شي.

د چهاردهي د علیمردان د سیمي اوسیدونکو خبرداری ورکړی چې که کابل ښاروالی د دې سرکونه جوړ نه کړي د اعتراض غږ به تر جمهوري ریاسته ورسوي.

د علي مردان سرک د کابل ښار په لویدیځه برخه

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د امریکایي ځواکونو وتل او د حامد کرزي په کورنۍ کې اختلافات

ډیلي ټیلګراف ورځپاڼه په افغانستان کې د بریتانوي ځواکونو د فعالیت د څرنګوالي په اړه په مقاله کې وایي: د ۲۰۱۴ (میلادي) کال تر پایه په افغانستان کې د نړیوالو پوځي ماموریت پاي ته رسیږي.

خو ښايي بریتانوي ځواکونه تر هغه وروسته هم هلته پاتې شي نو له پاکستان سره د اړیکو ښه ساتل تر بل هر وخت زیات اهمیت پیدا کوي.

ډیلي ټلګراف سیمې ته د بریتانیې د صدراعظم ډیویډ کامیرون وروستي سفر ته په اشاره لیکي:

پوځي سرچینو داسې څرګنده کړې؛ چې ښايي په افغانستان کې د بریتانیې پوځي حضور ته تر ۲۰۲۰ (میلادي) کال پورې اړتیا وي.

بریتانوي ځواکونه به دېته اړ وي چې؛ له طالبانو سره په مبارزه کې د افغانستان امنیتي قواوو ملاتړ وکړي، هوایي، استخباراتي او لوژیستیکي مرستې ورسره وکړي.

د ورځپاڼې په لیکنه، د طالبانو پر ضد له څه باندي یوې لسیزې راهیسې د روانو عملیاتو د لا پراختیا پر ځای، د بحران د پای ته رسولو لپاره اسانه لاره دا ده چې د سیاسي جوړ جاړي خبرې وشي.

خو ډیلي ټیلګراف وایي چې دا هم اسان کار نه دی څکه په قطر کې د خبرو لپاره د جمهور رییس بارک اوباما وړاندیز ته د طالبانو ځواب د انتحاري او بمي حملو یوه لړی وه چې؛ په کابل کې د امریکا د استخباراتو د اداري (سي اي اي) دفتر هم په کې شامليږي.

ډیلي ټیلګراف لیکي: که چیرې پر طالبانو د فشار راوستلو او د وسلو ایښودلو ته د هغوي د مجبورولو خبره وي، بیا نو د پاکستان د نوي منتخب حکومت د مشر نواز شریف ملاتړ ډیر مهم دی.

ډیویډ کامیرون تر یوه حده غوښتل چې پاکستان ته په دې سفر کې هغه اختلاف له منځه یوسي چې د هغه په مخکنی سفر کې رامنځ ته شوی وو.

ډیویډ کامیرون هغه مهال پر پاکستان تور لګولی وو چې له تروریزم سره په مبارزه کې دوه مخی چلند کوي.

د ډیلي ټیلګراف په لیکنه، د ډیویډ کامرون اندیښنې د درک وړ دي څکه د بریتانیې پر ضد د تروریستي دسیسو ترنیمايي زیاته برخه له پاکستان سره ارتباط لري.

بله ورځپاڼه وال سټریټ ژورنال له افغانستانه د امریکایي ځواکو د وتلو، د انتخاباتو په وړاندې د موجودو ستونزو او د جمهور رییس حامد کرزي په کورنۍ کې د شته اختلافاتو په اړه یوه مقاله لري.

ورځپاڼه لیکي: که چیرې په افغانستان کې له مهال ویش سره سم د راتلونکي کال په اپریل کې د ولسمشرۍ ټاکنې وشي، نو داسې انګیرل کیږي چې ښاغلی کرزی به د خپل ورور قیوم کرزي په د څیر د باور وړ شخص ملاتړ وکړي.

والسټریټ ژورنال وایي چې قیوم کرزی د جمهوري ریاست د انتخاباتو لپاره تیاري نیسي، خو د ولسمشر کرزي یو شمیر پلویانو د احتیاطي پلان په توګه د ملي څټو په نوم د هغه د بیا ټاکل کیدو لپاره کمپاین پیل کړی دی.

خو د ورځپاڼې په لیکنه، د هغو جهادي مشرانو په شمول چې په مخکنیو ټاکنو کې یې د ښاغلي کرزي ملاتړ کړی وو، د اپوزیسیون یو شمیر مشران د داسې پلانونو مخالفت کوي.

د افغانستان د راتلونکي لپاره داسې انتخابات ډیر مهم دي چې نتایج یې په پراخه کچه مشروع وګڼل شي.

وال سټریټ ژورنال لیکي، تیمګري یا غیر مناسب ډول انتخابات به دا هیواد دړې وړې کړي، وسله وال طالبان به پیاوړي کړي او له دې هیواد څخه د امریکایي قواوو له وتلو سره سم به د نړیوالو مرستو موثریت له پوښتنو سره مخامخ کړي.

د جمهور رییس حامد کرزي ویاند ایمل فیضي وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې ته ویلي چې ښاغلي کرزی د کوم ځانګړي کاندید ملاتړ نه کوي او غواړي چې ازاد او عادلانه ټاکنې ترسره شي.

د جمهور رییس حامد کرزي یو ورور محمود کرزی استدلال کوي چې د دوی کورنۍ د دې لیاقت لري چې په قدرت کې پاتې شي.

محمود کرزی خپله کورنۍ په هند کې د نهرو د کورنۍ سره پرتله کوي. د نهرو کورنۍ په هند کې د ډیموکراسی په بنسټ ایښودونکو کې ګڼل کیږي.

قیوم کرزی چې د امریکا تابعیت لري خو په افغانستان کې اوسي تر اوسه د ځان کاندیدي نه ده اعلان کړې اونه یې غوښتل چې پدې اړه تبصره وکړي.

خو د وال سټریټ ژورنال په لیکنه، محمود کرزی په قندهار کې له عمده څیرو څخه ګڼل کیږي چې په وروستیو کې یې خپل امریکایي تابعیت هم مسترد کړ.

محمود کرزي ویلي، که چیرې قیوم کرزی انتخاباتو ته کاندید نه شي نو دی به په خپله ور مخکې شي.

کې تر بل سوخته یورې غځیدلی دی.

راپورونه وایي، له دې مخکې هم د چهاردهي اوسیدونکو د دوی د ستونزو له امله، واټونو ته راوتلي او مظاهرې یې کړې دي.

د سولې خبرې باید د افغانستان ...

طالبانو په قطر کې د دفتر له پرانستلو وروسته وویل چې تیار دي له امریکاییانو او افغانانو سره خبرې وکړي.

د هند د بهرنیو چارو وزیر په عین حال کې وویل: "د پخلاینې بهیر باید د افغانستان د دولت او حکومت مشروعیت او په افغانستان کې د نړیوالو باندي لسو کلونو په لړ کې د نړیوالي ټولنې په پراخه مرسته شوی اقتصادي او ټولنیز پرمختګ زیانمن نه کړي."

ښاغلي خورشید دا هم وویل، د هند پالیسي دا نه ده چې د افغانستان په اړه خپل دریځ بدل کړي.

ده په نړۍ کې د تروریزم له خپریدو هم اندیښنه ښکاره کړه، او په پاکستان کې یې د افغان طالبانو په شمول د وسله والو سخت دریځو کمپونو او روزنځایونو ته په اشارې وویل: "ترهګرۍ په افغانستان کې سوله او ثبات ګواښلی نو موږ ته بکار ده چې له افغانستانه دباندې د ترهګرو خالي او خوندي مرګونه او دغه راز د هغو مالي او تاکتیکي ملاتړ له منځه یوسو."

د هند د باندنیو چارو وزیر زیاته کړه: "موږ باید له افغانستان سره مرسته وکړو چې دا هیواد باثباته، دیموکرات او ځان ګونډیز دولت شي، نړیواله ټولنه باید د بدلون او انتقال په پړاو کې له افغانستان سره په پرمختیایي او امنیتي چارو کې مرستې ته دوام ورکړي."

سره له دې چې امریکا، بریتانیا او پاکستان د قطر د سولې د بهیر ملاتړ کوي خو داسې ښکاري چې د افغانستان حکومت دې پروسې ته زړه نه ښه کوي.

افغانستان از تطبیق فیصله های ...

سه شنبه در نشستی در کابل برگزاری این نشست را جهت ادامه کمک های جامعه جهانی با افغانستان و آینده این کشور مهم خواند.

"در این نشست تعهدات دو جانبه مورد بررسی قرار خواهد گرفت، کشور های کمک کننده نیاز دارند تا از تطبیق تعهدات کنفرانس توکیو را ارزیابی کنند و این بررسی برای آینده افغانستان بسیار مهم است."

در کنفرانس توکیو که به هدف جلب کمک های مالی برای افغانستان در ماه جولای ۲۰۱۲در جاپان برگزار شده بود جامعه جهانی تعهد سپرد که تا سال ۲۰۱۶میلادی شانزده میلیارد دالر را با افغانستان کمک می کند.

در نشست توکیو افغانستان و کشور های کمک کننده به این کشور، یک میکانیزم را به هدف شفافیت در پرداخت کمک ها و نحوه مصارف آن امضا نمودند.

برگزاری انتخابات شفاف، حکومت داری خوب، حاکمیت قانون و مبارزه جدی در برابر فساد اداری از پیش شرط های اند که جامعه جهانی برای تداوم کمک شان با افغانستان گذاشته است.

با آنکه حکومت افغانستان تعهد کرده که این پیشرط ها را عملی می کند، اما برخی از کارشناسان امور اقتصادی می گویند که با گذشت یک سال در این بخش ها کار های موثر انجام نشده است.

اردو در مورد تعیین ضرب الاجل...

جنرال عبدالفتاح سیسی وزیر دفاع و رییس شورای نظامی اردوی مصر به روز دوشنبه از حکومت مرسی و مخالفین خواست در ظرف ۴۸ساعت، یک راه حل برای بحران فعلی پیدا کنند، در غیر آن اردو پلان خود را برای بیرون رفت از بحران عملی خواهد کرد.

مخالفین، رییس جمهور مرسی را به سپردن قدرت زیاد به حزب اخوان المسلمین خودش و عدم توانایی به حل مشکلات اقتصادی و اجتماعی مصر متهم می نمایند.

به روز یکشنبه ده ها هزار نفر در میدان تحریر قاهره دست به تظاهرات زدند و از مرسی خواستند از وظیفه اش کناره برود.

یکشنبه مصادف بود به اولین سالگرد انتخاب دموکراتیک مرسی بحیث رییس جمهور مصر.

جبهه نجات ملی مصر، مذاکره با مرسی را رد نموده و گفته است، بعد از سپری شدن ۸ ساعت، با جنرال سیسی مذاکره خواهد کرد.

سمیع عاشور سخنگوی جبهه نجات ملی، راه اندازی کودتاه از سوی اردو را رد نمود و گفت:

"ناممکن است که اردوهیچگاه از حمایت مردم مصر دست بکشد. در اعلامیه تاکید شده که آنها از رقابت های سیاسی اجتناب خواهند کرد و در صدد بدست آوردن قدرت نمی باشند. در اعلامیه همچنان تاکید شده که اردو به اصول دیموکراسی و اراده مردم احترام می گذارد."

د ۵۷ هیوادونو استازي نن په ...

افغانستان سره د نړیوالو مرستو د دوام او د دې هیواد د راتلونکي لپاره ډیره مهمه ده.

"په یاده غونډه کې به د دوه اړخیزو تعهداتو په اړه بحث وشي چې؛ مرسته کوونکي هیوادونه غواړي چې؛ د توکیو کنفرانس د ارزونې په اړه څیړنه وکړي او دا څیړنه د افغانستان د راتلونکي په اړه مهمه ده."

د توکیو کنفرانس د د افغانستان لپاره د مالي مرستو د راجلبولو په هدف د ۲۰۱۲ میلادي کال د جولای په میاشت کې په جاپان کې جوړ شوی وا چې نړیوالې ټولنې تر ۲۰۱۶ میلادي کال پورې له افغانستان سره د شپاړس میلیاردو ډالرو د مرستې ژمنه وکړه.

د توکیو په ناسته کې مرسته کوونکو هیوادونو د خپلو مرستو د سم او شفافه لګولو لپاره پر یو میکانیزم هم سلا وکړه او افغان حکومت په دې برخه کې ټینګې ژمنې وکړې.

د شفافو انتخاباتو ترسره کیدل، ښه حکومتداري، د قانون حاکمیت او له اداري فساد سره مبارزه هغه شرایط وو چې؛ نړیوالې ټولنې له افغان حکومت سره د خپلو مرستو د دوام لپاره وړاندې کړي وو.

سره له دې چې افغان حکومت د دې ژمنو په عملي کولو ټینګار کړی، خو څینې اقتصادي څیړونکي وایي، چې د توکیو له کنفرانس څخه یو کال تیریږي خو افغان حکومت د خپلو ژمنو د عملي کولو په برخه کې د پام وړ اقدامات نه دي کړي.